# د سولې په خبرو اترو کې ګډون؛ د اسلام دښمنانو ته تسلیمېدل




د "ترورېزم" پر وړاندې د مبارزې تر نامه لاندې د افغانستان د مسلمانو او مجاهدو خلکو پر وړاندې د امریکا خونړۍ جګړه له ۱۸ کلونو وروسته له جدي خنډ سره مخ شوې ده. نو امریکا ته ناشونې ده چې د افغانستان جنګي جبهه ناڅاپه پرېږدي او له صحنې څخه شاتګ وکړي؛ ځکه چې امریکا به هم د شوروي اتحاد پر ناوړه برخلیک اخته شي.

نو پر دغه اساس امریکا له افغانستان سره له نیمې پېړۍ سیاسي اړیکو او د افغانستان د اشغال لپاره له سیاسي، اقتصادي، استخباراتي مبارزې او په تېرو ۱۸ کلونو کې د ټریلیونونو ډالرو له لګښت او د زرګونو سرتېرو له قربانۍ وروسته د سختې ماتې پر برخلیک د اخته کېدو له وېرې له طالبانو سره د سولې خبرو اترو ته غاړه ایښې، ترڅو په ښکاره د افغانستان جګړه داسې ختمه کړي چې په دې خاوره کې خپل استعماري نفوذ خوندي وساتي او د افغانستان له ستراتژیک موقعیت، کاني زېرمو او نشه‌يي توکو څخه اعظمي ګټه واخلي.

د امریکایي سولې په پروسه کې د افغان ډلو او سیاستوالو ګډون او همغږي، د اشغالګرو دښمنانو پر وړاندې له تدریجي تنازل، د طالبانو د لا زیاتې تجزیې او د افغانستان د مسلمانو او مجاهدو خلکو له غولولو پرته بله پایله نه لري. نو یوې وسله‌والې اسلامي ډلې ته د ویاړ ځای دی چې د نړۍ لومړۍ درجه زبرځواک یې اړ کړی، ترڅو له یوې داسې ډلې سره د خبرو اترو مېز ته کېني، چې د هغه هېواد د بهرني سیاست په لیدلوري کې «ترورېست» نومول شوې وه او تر همدغه غولوونکي نامه لاندې ورسره په جنګ بوخته وه.

له افغانستانه د ټولو اشغالګرو ځواکونو وتل، د حاکم ډیموکراتیک نظام له منځه وړل او د شریعت هر اړخیز تطبیق؛ له شک پرته د اسلام او مسلمانانو یوازینۍ مشروع موخه ده. دا موخې یوازې د افغانستان مسلمانان نه تعقیبوي، بلکې ټول اسلامي امت غواړي چې لاسپوڅي حاکم نظامونه را نسکور کړي، اشغال شوې خاورې آزادې کړي، د استعماګرانو د هر ډول حضور جرړې له خپلو خاورو وباسي او د خلافت دولت تر سیوري لاندې

اسلامي شريعت په هر اړخيز ډول پلی کړي. په اشغالي سيمو کې وسله‌وال جهاد او د عربي پسرلي انقلابونه چې تر اوسه هم دوام لري، د آزادۍ په دغه مسير کې د امت د ارادې غوره بېلګې وې او دي؛ خو پوښتنه دلته ده چې آيا دغه اسلامي موخې له صليبي، کافر او اشغالګر دښمن سره د خبرو اترو او مصالحې له لارې تر لاسه کېږي که نه!؟

هېڅکله نه! که د تر لاسه کېدو وړ وای، د تاجکستان اسلامي نهضت د دغه هېواد له مستبد او مزدور نظام سره د مصالحې له لارې تر لاسه کولې. د سوريې انقلابيان به د روسيې، ايران او ترکيې له اشغالګرو ځواکونو سره د خبرو اترو له لارې خپلو موخو ته رسېدلي وو. د چيچين مسلمانانو او حتی په افغانستان کې د حکمتيار اسلامي حزب به دغه موخې تر لاسه کړې وې. ټول په کفري او ډيموکراټيکو پروسو کې ذوب شول او مختلفو استعماري پروګرامونو هغوی له خپلو موخو سره يو ځای تر ستوني تېر کړل، چې اسلامي امت ته يې له نهيلی او د کفري نظامونو له لا زياتې واکمنۍ پرته بله لاسته راوړنه نه درلوده. نو آيا د طالبانو تحريک هم غواړي چې د يادو ډلو يوه برخه شي!؟

پر دې سربېره امريکا د بشريت په تاريخ کې د عهد او ترون ماتولو خورا ناوړه مخينه لري. دا ترون ماتونه يوازې له وسله‌والو ډلو او سياسي ګوندونو سره نه ده، بلکې له دولتونو سره يې ترونونه په دوامداره توګه مات کړي دي. که زموږ دا ادعا نه منئ، ولاړ شي د شمالي اتحاد له رهبرانو او د حکمتيار له اسلامي حزب څخه وپوښتئ! لاړ شئ د ايران او شمالي کوريا له رهبرانو پوښتنه وکړئ! حتی له اروپايي اتحاديې څخه د وتلو په موضوع کې له انګلستانه وپوښتئ! د امريکا پراګماتيک سياست نه دايمي دوست لري او نه دايمي دښمن. تل يې استعماري موخو هر ډول ناوړه او چټل وسايل او اساليب توجيه کړي دي. نو د افغانستان د اشغال لپاره يې لومړی تاسو تروريستان معرفي کړئ او ستاسو حکومت يې سقوط کړ، له څو کاله جنګ او وحشت وروسته د خپل بهرني سياست له غوښتنې سره سم يې تاسو د امريکا د تروريستانو له تور لېست څخه وايستئ او اوس يې د خپل استعماري حضور د ادامې او خونديتوب په پلمه د داخلي مخالفو وسله‌والو په نامه له تاسو سره د خبرو اترو دروازه پرانيستې ده.

که څه هم له ۲۰۱۴م وړاندې د افغانستان د جګړې واقعيت بل ډول و او مستقيماً د افغانستان مجاهد خلک د اشغالګرو ځواکونو او د دوی د هم‌سنګرو ملاترو پر وړاندې ولاړ وو؛ خو د شرموونکي امنيتي ترون له لاسليک وروسته جنګ د افغانانو تر منځ تمرکز موندلی، اشغالګرانو خپل ځانونه په اډو کې خوندي کړي او د جګړې له مهمو قوماندانانو سره د مشاورينو په توګه او د افغان ځواکونو د ښوونې او روزنې، تمويل او تجهيز په وسيله خپل خبيثانه رول په بشپړ خونديتوب سره تر سره کوي او په دې برخه کې مختلفې نظامي ډلې جوړې شوې، چې د جګړې په ډګر کې عجيب او غريب کارونه کوي. کله جګړه د مطلقې فتنې په توګه د مسلمانانو تر منځ د قومي او ژبنيو احساساتو پر اساس زور نيسي او کله هم له يوه ځايه بل ځای ته د نشه‌يي توکو د انتقال لپاره او کله هم په افغانستان او سيمه کې د ښکېلو هېوادونو په نيابت د جګړې اور تازه کېږي. د جګړې اصلي زيان د افغانستان خلک ګالي، چې په دغه صورت کې د مخلصينو مبارزې هم تر پوښتنې لاندې راولي. خو اشغالګران له رامنځته شوي وضعيت څخه استعماري ګټه پورته کوي.

**نو په افغانستان کې اې مخلصو مبارزينو!**

اشغالګرو کفارو ته لږ څنګ ورکول هم د يوې زاويې د پيل ټکي ته ورته دي، چې د اوږدېدو په اندازه يې ضلعي يو له بله لرې کېږي. که تاسو له اشغالګرانو سره د خبرو اترو باب پرانيستی پرېږدئ او دې مسير ته دوام ورکړئ، انحراف مو تدريجي زياتېږي، بالاخره په امريکايي پروسه کې ذوب کېږئ. په داسې حال کې چې خپل انحراف ته متوجه نه ياست او حتی له منلو به يې هم جداً ډډه کوئ. په پايله کې؛ که حتی اشغالګر کفار ظاهراً خپل مستقيم اشغال ختم هم کړي، خو خپل استعماري حضور ته د نړيوالو بنسټونو، سفارتونو، ديپلوماتانو، جاسوسانو، ملکي موسسو او نورو له لارې ادامه ورکوي. په دغه صورت کې هغه الهي اخطار چې اصحاب کهف ته ورکړل شوی و، زموږ او ستاسو د حال مصداق هم ګرځي:

﴿**إِنَّهُمْ إِن يَظْهَرُوا عَلَيْكُمْ يَرْجُمُوكُمْ أَوْ يُعِيدُوكُمْ فِي مِلَّتِهِمْ وَلَن تُفْلِحُوا إِذًا أَبَدًا**﴾ [کهف: ۲۰]

***ژباړه:*** *له شک پرته که هغوی پر تاسو برلاسي شي، سنګساروي (مجازات) کوي مو او يا مو خپل دين (ډيموکراسي) ته اړوی او (په هغه صورت کې په دنيا او آخرت کې) هېڅکله نه بريالي کېږئ.*

قطعاً که په افغانستان کې د اشغالګرانو پر وړاندې مستقيم او وسله‌وال جهاد ختم شي، صليبي کفار به موږ او تاسو تر دې لا ډېر ذليل کړي او د خپل ناوړه دين (ډيموکراسي) منلو ته به مو اړ کړي، چې په هغه صورت کې به موږ او تاسو د استعمار له بحرانونو او مصيبتونو څخه په دنيا کې

هم زیانمن شو او د اشغالگرو کفارو پر وړاندې د جهاد له نه کولو او د استعمارگرو کفارو پر وړاندې د فکري او سیاسي مبارزې او د خلافت دولت له لارې د اسلام د نه تطبیق له امله به په آخرت کې هم ستره خساره ووینو. پوه شئ، هغه قوم چې جهاد یې پرېښی، ذلیل شوی دی. لکه څنگه مو چې په تېرو ۱۸ کلونو کې د دغه ذلت ځینې شواهد لکه: تفرقه، فتنه، فقر، فحشا، درانه مالیات، اداري فساد ، مقدساتو ته سپکاوی، د خپلو خلکو بې پروا وژنې او وینې تویونې تجربه کړې.

**اې د افغانستان مجاهدو او آزادو مسلمانانو!**

د دښمن د سولې پروسه هېڅکله تاسو هغه امنیت او سوکالۍ ته نه رسوي چې تمه ترې لرئ، بلکې د دې لامل کېږي چې په افغانستان کې د سیاست او جگړې صحنه لا پېچلې کړي او استعمار په نوي نامه او شعار د خپل نظامي، سیاسي، اقتصادي او فرهنگي حضور رېښې لا پیاوړې کړي او د اشغالگرانو پر وړاندې د مقاومت له ختمېدو وروسته به د افغانستان مسلمانان نور حتی د خپلې ښځې، اولاد او کورنۍ د روزلو توان ونه لري او هر ډول ذلت به د دې خاورې د هر وگړي لمن ونیسي. حتی د ځینو اسلامي خاورو په څېر به نور د نکاح پر اساس د کورنۍ تشکیل، د اولاد اسلامي روزنه، لمونځ، په مساجدو کې سیاسي خطبه ویل او په ټولنه کې به د اسلامي سیاسي فعالیت چانس نه وي.

**اې مسلمانانو او مخلصینو!**

امریکا له یوې خوا غواړي چې د دې پروسې په وسیله د خپل تاریخ خورا اوږده جگړه ختمه اعلان کړي او په امریکا کې حاکم گوند په راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو کې د خپلې بریا لپاره ترې گټه واخلي. له بله اړخه د سیمې هېوادونه وغولوي چې مور نور د افغانستان جگړې ته د پای ټکی ږدو، ترڅو په پایله کې د امپراتوریو په دې مقبره کې د خپلې ښکاره او شرموونکې ماتې مخه ونیسي. خو په دې چټله او غولوونکې پروسه کې داعش او ۲۰ نورې "تروریستي" ډلې، چې امریکایي سیاستوال او نظامیان او د کابل لاسپوڅې دولت یې تل یادوی، اصلاً د سولې د اجنډا او پروسې برخه نه دي. نو افغانستان بیا هم په سیمه کې د امریکا د جنگي پروژې په توگه کارول کېږي او د دې غولوونکې پروسې له سر ته رسېدو وروسته یوازې او حداقل د جگړې په اوسنۍ جغرافیا کې د بدلون وړاندوینه کېدای شي او بس؛ خو امریکا به بیا هم د افغانستان له طبیعي زېرمو، نشه‌یي توکو او ستراتیژیک موقعیت څخه د وسیلې په توگه کار اخیستو ته ادامه ورکړي.

د یادونې وړ ده چې په دې پروسه کې د پاکستان، سعودي، اماراتو او قطر همکاري په دې معنی نه ده چې دا دولتونه د طالبانو له مبارزو سره اخلاص او همدردي لري؛ بلکې هغوی ټول پر دې ډله د امریکا د نفوذ خبیث وسایل دي. همدارنگه له ښکېلو اړخونو سره؛ هغه که طالبان دي او که په کابل کې امریکایي دولت د چین، روسیې، هند او ایران همکاري قضیه تر دې هم پېچلې کوي او په افغانستان کې د جگړې پر سیمه‌ییزو او نیابتي اړخونو دلالت کوي او امریکا غواړي چې د جگړې دروند بار د سیمې د هېوادونو پر اوږو وربار کړي. لکه څنگه چې په ۲۰۰۱م کې پاکستان د افغانستان له اشغال او د طالبانو د تحریک په ماتې معامله وکړه، اوس یو ځل بیا داسې معاملې ته لار هواروي. نو ځکه امریکا اوس د نفوذ او فشار له ټولو وسایلو گټه اخلي، ترڅو طالبان د امریکایي سولې پروسې ته تسلیم کړي.

**نو په طالبانو او نورو اسلامي ډلو کې د امت اې مخلصو عناصرو!**

د انگلیس پر وړاندې ستاسو د نیکونو د جهاد او سربښندنو هدف، د شوروي اتحاد پر وړاندې ستاسو د جهاد او قربانیو موخه او د امریکا او ناټو پر وړاندې ستاسو د جهاد او قربانۍ هدف د استعمار ټینگښت او د ډیموکراسي نظام او بشري قوانینو تطبیق نه و؛ بلکې د اسلامي دولت تاسیس او د شریعت تطبیق و. نو راشئ، په یوه غږ د سولې د پروسې په گډون د کفارو او د دوی د مزدورانو هر ډول پروگرامونه په فکر او عمل کې رد کړئ او خپل نظامي ځواک او وسله‌وال فعالیت د حزب التحریر په هر اړخیز او سیاسي فکر سمبال کړئ، ترڅو مو قدم په قدم د دښمن له مکره خبر کړي او د دې خاورې د غیرتمنو خلکو پرله پسې سربښندنې په سیمه کې له خپلو ورونو سره یو ځای د راشده خلافت دولت په تاسیس سره گټورې کړئ. هغه مهال کولی شو د اسلامي دولت په فضا کې نه یوازې په افغانستان، بلکې په ټولو اسلامي خاورو کې د امریکایي سولې پر ځای د ایماني امنیت، سوکالۍ او ډاډ فضا رامنځته کړو او عزیز اسلام د بهرني سیاست یعنې دعوت او جهاد له لارې لندن، پاریس، مسکو، پیکن او واشنگټن ته ورسوو. هغه مهال به د عمل ابتکار د اسلامي امت په لاس کې وي او بشریت به د پانگوالۍ له تیارو څخه د اسلام نور ته رهنمایي کړي. نو:

﴿**لِمِثْلِ هَذَا فَلْيَعْمَلِ الْعَامِلُونَ**﴾ [الصافات: ٦١]

*د دې بریا لپاره باید عمل کوونکي عمل وکړي.*

﴿وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ بِعَزِيزٍ﴾ [ابراهيم: ٢٠]
*او دا کار الله متعال ته سخت نه دی.*

**حزب التحریر -ولایه افغانستان**

**٢٠١٩/٠٢/٠٦م**